انتظار

سرونو یوشئ چې تاجونه انتظارلري

فکرونو یوشئ چې تختونه انتظارلري

فتحه د خوست مو کۀ پوهیزئ د وحدت فتحه ده

سیندونو یوشئ چې موجونه انتظارلري

مړاوو بڼونو د وطن درته لمن نیولې

ګلونو یوشئ چې باغونه انتظارلري

لکه مرغۍ درته هرچا پهٔ ډکي شپې تیرې کړې

مشرانو یو شئ چې قومونه انتظارلري

نوره موده د اندیښنو د خلاف پاتې نهٔ ده

لهٔ زړونو یوشئ چې بختونه انتظارلري

د عمل ځای را نه نیولی دی د خولې خبرو

لاسونو یوشئ چې کارونه انتظارلري

لویه ورشو دې پروازونو ته لیواله ده بیا

بازونو یوشئ چې ښکارونه انتظارلري

۲ ثور - ۱۳۷۰ پیښور

د افغانستان پخوانی پاچا

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته

سترګې دي کۀ زړونه امیدونه دې لارڅاري
ورځې دي که شپې دي موسمونه دې لارڅاري
هره ثانیه د وطن ستا په انتظارکښې ده
هره ګړۍ فکر تدبیرونه دې لارڅاري
سوال د مرګ او ژوند د رسالت مینځ ته راغلی دی
لویه خطره ده تاریخونه دې لارڅاري
روح د غزنوي او ابدالي په اضطراب وینم
وخت کړي اوازونه پیغامونه دې لارڅاري

کښنیزده قدمونه د بابا پهٔ قدمولویبا

پورته کړه علم چې عالمونه دې لارښاري
ته هغه امید یې چې تسکین پرې اولسونه کړي
ته هغه تعبیر یې چې خوبونه دې لارښاري
مونږه د هجرت د بیابانونو جل وهلي یو
راشه ساقي راشه چې جامونه دې لارښاري
دا لویه ارزو لهٔ نورو خلکو پوره کیږي نهٔ
خه شولی عقابه چې بامونه دې لارښاري
چرته جهان بین او چرته فکرد خود بینو
ندی برابرځکه څومونه دې لارښاري
بې لهٔ تا زعیمه نهضتونه پښنه نیولي دي
بې ساروانه واړه کاروانونه دې لارښاري
زړونه دي ستومانه د جنګونود مرګونونه
ته راشه طبیبه چې زخمونه دې لارښاري
وخت دې د راتلو دی کهٔ راځې « اعلیحضرته »
توري دي کهٔ زغرې بیرغونه دې لارښاري

۲۰ جوزا - ۱۳۷۰-پیښور

د مجاهد آواز

جرگې پرې ډيرې وشوې مشران نهٔ پخلا کيږي
فکرونه شو پرې سترې رهبران نهٔ پخلا کيږي
پيسې وې کهٔ وسلې وې صدقه شولې لهٔ واړو
کوم پرې ننواتې خو غازيان نهٔ پخلا کيږي
لاسونه د وحدت يې پهٔ کعبه کښې وو ورکړي
ورغلي وو روضې ته خو ياران نهٔ پخلا کيږي
يو تخت او يو وطن دی اميران پهٔ کښې بې شماره
هر يو وايي چې زه يم اميران نهٔ پخلا کيږي

تاریخ ورته ژړا کوي وختونه ورته چیغي
غرض پهٔ مخه کړي غرضیان نهٔ پخلا کیږي

جنګونه هم مرګونه پهٔ ناحقه یو تربله
سرې غوښې د بچو خوري ښاماران نهٔ پخلا کیږي

دا وخت د اتحاد دی کهٔ دا وخت د برخوردونو
رویو نه ورته نیسم پهٔ هیڅ شان نهٔ پخلا کیږي

دا یو مرورنهٔ دی چې جرګه شمه پرې خلکه
ایران ، او پاکستان ، او سعودیان نهٔ پخلا کیږي

د غم دپاسه غم دی کهٔ فتنه د زمانې ده
جهان واړه پخلا شو ملایان نهٔ پخلا کیږي

ګټلی جنګ مې ګوری چې لوټلی شي لهٔ لاسو
خو بیا هم زمونږ وروڼه صاحبان نهٔ پخلا کیږي

د نام و ننګ د ځلي سرمې ورسواسمان ته
نورځهٔ غواړې زمانه چې جانان نهٔ پخلا کیږي

۱۵ سرطان - ۱۳۷۰

پیښور

۱۸د سرطان/ ۱۳۷۰

د مني مبارز مجاهد ليکوال
عبدالرحيم چينزايي په اختطاف او ترور

د حريت جرس

هيڅ نه پوهيږم سخنگوى که سخندان شو ترور

که پروانه د بلې شمعې د افغان شو ترور

ده خاموشي که بې هو شي ده د هجرت په کلي

که د حريت جرس د غاړې د کاروان شو ترور

د صحافت په کورغدی‌ء که د حسرت چيغې دي

که د زخمي زړگي پيغام وء که ارمان شو ترور

دا څه آشوب د حوادثو دى راغلى په مونږ

دا څه فرياد دى چې جانان او که جهان شو ترور

په څه خبره نخښنه شوى يم د وخت غشو ته

په څه قصورمې سره گلونه د بوستان شو ترور

نه يمه پوى چې چا تالا کړه دا کته بازونه

نه يم خبر په څه گناه مې شاهينان شو ترور

لا زړې اوښکې مې له سترګو وچې شوې نه وې
چې « چینزایي » مې له چشمانو ناګهان شو ترور
ما لا د تیرو شازلمو په یاد غوغا کوله
چې مې ناڅاپه بل د میني قهرمان شو ترور
د اسلامي شعارله چتردامان له سوري
یو قام پرسته مبارزه مسلمان شو ترور
چې تیره ژبه یې عالمه وه له تورو تیره
هغه حق ګوی هغه راست ګوی هغه انسان شو ترو ر
چې تبصرو یې په زورګیروزلزلې راوستې
هغه منطق هغه بیان هغه برهان شو ترور
چې زلمیتوب یې قدمونه د پیرۍ ښکلول
هغه همت هغه جرأ ت او هغه ځوان شو ترور
ځای لري خلکه چې له غمه یې ګریوان څیرې کړم
چې د وطن په اوښکو لوند هغه ګریوان شو ترور
اوس د "فریاد " د ځوانیمرګه اخبار څه ووایم
غوغا ده ګډه چې قلم او قلمدان شو ترور
توبه توبه دبې امانه پیښوره توبه
چې "چینزایي " پکښې په آه او په فغان شو ترور

لوبې کوو

پهٔ وطن ننګ دی د سرونو سره لوبې کوو
د عزت جنګ دی د اورونوسره لوبې کوو
د بې عزته ژوند نه ښه دی باعزته مرګی
پهٔ سیالۍ ځکه د مرګونو سره لوبې کوو
د بابا آدمه رانیولې ان تر دغه دمه
د سرد پاسه د سرونو سره لوبې کوو

لهٔ يوه طوفانه چې راوځو بيا مو سروې پهٔ بل
د وخت سلا ده چې وختونو سره لوبې کوو

کله چنگيز کله انګريز او کله سره ملحدان
لاس اوګريوان د شبخونونو سره لوبې کوو

دا مې جرئت کهٔ شجاعت کهٔ ليونتوب ګڼي څوک
پهٔ تشو لاسو د بمونو سره لوبې کوو

پهٔ سرو مال مې داو وهلى د وطن پهٔ مينه
پهٔ داو ولاړ يم د داوونو سره لوبې کوو

روسان مې مات کړه د دهريانو جنازه وشوله
اوس د خود کشو د ظلمونو سره لوبې کوو

هر څهٔ چې کيږي دا سرې تودې منلي دي مونږ
د ژوند د پاره د غمونو سره لوبې کوو

۱۳۷۰ – پيښور

د خطري لړه راغلي ده نو بې اختياره مې دغه اسويلي

لهٔ خولې وتلې او قلم کښېل کړيدي ، ما وخت پهٔ وخت د

جهاد د قافلې پهٔ ساروانانو باندې غږ کړيدی چې د

کاروان واګې درنه د خپله مسيره ونهٔ وځې او د لعلونو

پهٔ ځای د اوښ د غاړی پهٔ جرس باندې ونهٔ غوليږئ

ځکه چې مونږ د خپلو اوښکو او د وينو پهٔ سيلابونو

هغه لاره وهلې ده پهٔ کومه چې د افغاني ضمير تسکين

کيږي او د ملي شتمنی تضمين پهٔ کښې موجود دی ،

لهٔ نيکه مرغه د شلمې صدی افغان چې نن پرون د خپل

غيرت او ميړاني کومه مظاهره وکړه او د بشريت ستر

غليم يې را وپرځاوه دا د وخت يوه داسې خارقه ده چې

دنيا وال ورته ګوته پهٔ غاښ دي او عقل يې حيران

کړيدی ، کهٔ مبالغه يې نهٔ بولئ ځای لري چې ووايم ، د

افغاني افتخاراتو پهٔ تاج کښې دا يو داسې کوه نور

وځليد چې پلوشو يې د دنيا د لرو ګوټونو تيارې

روښانه کړې او د سلو کالو مړي يې را ژوندي کړل .

مګر متأسفانه با وجود د دغومره عظيمو برياليتوبونو

او جهاني تحسينونو چې زمونږ پهٔ برخه شول تر اوسه لا

د تورې په مخ

عالم مې خلاص لهٔ اژدهانه کړه د تورې پهٔ مخ
وحشت مې لرې لهٔ دنیانه کړه د تورې پهٔ مخ
ویره او ترهه مې کړه ورکه د تکبیر پهٔ چیغو
کعبه د زړونو مې روښانه کړه د تورې پهٔ مخ
پهٔ ټول جهان مې زیرې وکړېیا د نوې ځوانۍ
زړه بوډۍ مې بیرته ځوانه کړه د تورې پهٔ مخ

چې شرق او غرب یې لاجوابه د جوابه نهٔ و
اسمان مې لاندې لهٔ کمانه کړه د تورې پهٔ مخ

دا چې دنیا پرې ګرمې ګرمې تبصرې کوي.نن
غلیم مې څرنګه عریانه کړه د تورې پهٔ مخ

چې زمانې پسې پهٔ سرو سترګو ژړا کوله
هغه مې خوشې لهٔ زندانه کړه د تورې پهٔ مخ

د ملتونو د پښنونه زولنې ماتې شوې
د تشدد خونه مې ورانه کړه د تورې پهٔ مخ

د وحشتونو مور شوه بوره د شلمې صدۍ
غوځ مې لاسونه لهٔ ګریوانه کړه د تورې پهٔ مخ

لهٔ هر طرفه د روسانو جنازه ووته
جهان مې کل واړه حیرانه کړد تورې پهٔ مخ

دا خارقه د افغانانو نده وایه څهٔ ده
د قبرمړې مې ګویانه کړهٔ د تورې پهٔ مخ

قوس - ۱۳۷۰

د کونړ نامتو مجاهد قوماندان محمد زرین ته

توریالی غازی

د تورزنو بادرانو د زړهٔ سره
د وطن د فدایانو سرلښکره
ته یې شمعه د جهاد د پتنګانو
تهٔ یې برېښ د سپینو تورو د غازیانو
زړهٔ مې غواړي ستا یادونه را پهٔ زړهٔ کړم
څو خبرې د قلم پهٔ ژبه وکړم

دغه ته وي چه ملري شوي له هرچانه
په حمله کښې په روسانو ناگهانه

په ټانکونو دې برید وکړ جلالا کښې
درز د توري دې شوخور په هره خوا کښې

د دانگام چونۍ دې ونیوه په توره
غلیمان دې سلامۍ ته کړه مجبوره

په فوجیانو دې اوربل کړ د اسمار
د هرچانه مخ کښې ته شوې په دې کار

ویره ترهه دې له زړونو پوپنا کړه
په بریښنا د توري تا تیاره رڼا کړه

غور زنگونه د جنگونو د لښکرو
تا تنظیم کړه جنگیالي د ځگرورو

ډیر ویده له خوبه تا کړله بیداره
د جهاد په میو تا کړله سرشاره

شپه او ورځ په سمه او غرونو گرځیدلې
جنگیدلې کړیدلې دردیدلې

نه په خوب نه په خوراک نه په آرام وې
ډوب په غم کښې د وطن په ننگ و نام وې

د توپونو جهازونو د ټانکونو
سر ترپایه ډوب په دوړو د بمونو
تا له مرګه مخ وانه ړو په هیڅ شان
د مورچل نه وروسته نه شوې یو زمان
ته سپاهي یې قوماندان یې هم امیر
تا جهاد په توره کړی په تدبیر
د کنړ د فتح نوم که په خوله اخلم
ستا نامه به خامخا ورسره اخلم
ته به نه یې ستا یادونه به ژوندۍ وي
د تاریخ به شنه خالونه د تندي وي
ته زمری یې د جهاد د میدانونو
د کنړ د شنو درو او جګو غرونو
اوس دې هم توره ټوپك په اوزه ښکاري
تیز نظر دې د مورچلو لارې څارې
ته خاوند د پاخه عزم او یقین یې
په رشتیا سره غازي ، محمد زرین ، یې

یادونه : جلالا د کلي نوم دی ، دانګام د علاقې نوم دی ، اسمار د اولسوالۍ نوم دی .

د کنړ د ولایت د څو تنو نامورو مجاهدو قوماندانانو

نومونه چه تاریخ به يې هيڅ کله لۀ یادو و نباسي

شمیره	نوم	ځای	ولسوالي
۱-	قوماندان محمد زرین		اسمار
۲-	قوماندان پاچا	اغند باغ	اسمار
۳-	قوماندان حاجي سلطان	دانگام	اسمار
٤-	قوماندان حضرت گلاب	دانگام	اسمار
٥-	قوماندان ارسلاخان شهید	دانگام	اسمار
٦-	قوماندان حاجي عبدالنبي شهید	شال خوړ	اسمار
۷-	قوماندان عبدالرؤف	شال [redacted]	اسمار
۸-	قوماندان انور خان	شال [redacted]	اسمار
۹-	قوماندان تاجبر خان	ساو خوړ	اسمار
۱۰-	قوماندان اینجنیر مسافر	شیرگل	اسمار
۱۱-	قوماندان عبدالمتین	پاشنګر	اسمار
۱۲-	قوماندان ملك غازي شهید	څونك	اسمار
۱۳-	قوماندان اینجنیر وحیدالله	شیگل	اسمار
١٤-	قوماندان کشمیر خان	شیگل	اسمار
۱٥-	قوماندان انوار خان	نورستان	کامدیش

B
3.532
GHA
2565

۱۶-	قوماندان عبدالرزاق	نورستان	کامدیش
۱۷-	قوماندان مولوي رستم	نورستان	کامدیش
۱۸-	قوماندان داود	نورستان	کامدیش
۱۹-	قوماندان عبدالجبار		پیچ
۲۰-	قوماندان مطیع الله		پیچ
۲۱-	قوماندان حسن جان		پیچ
۲۲-	قوماندان سید محمد خان		پیچ
۲۳-	قوماندان طالب اخونزاده		پیچ
۲٤-	قوماندان حاجي عبدالغفور	نورستانی کانتوا	پیچ
۲۵-	قوماندان حاجي جمعه گل	ویگل	پیچ
۲۶-	قوماندان مولوي فقیرالله	ویگل	پیچ
۲۷-	قوماندان عبدالقادر	باویل	پیچ
۲۸-	قوماندان ډاکتر صادق		څوکۍ
۲۹-	قوماندان مولوي غلام رحمان		څوکۍ
۳۰-	قوماندان جان داد خان	دیوه گل	څوکۍ
۳۱-	قوماندان معلم محمد امین		څوکۍ
۳۲-	قوماندان ظاهر خان		کنړ خاص
۳۳-	قوماندان حسن خان	علاقداري	نوزگل
۳٤-	قوماندان سید ولید	قریه‌امان کوټ	شیګل اسمار
۳۵-	ژورنالست ، مبارز او مجاهد سید نعیم مجروح		شیګل اسمار

دا د جنګ د ازادۍ وروستۍ ډیوې دي

پس لۀ دې به پۀ وطن رڼا رڼا وي

زمونږ مخې ته د ملي اتحاد او ملي زعامت سوال پروت دی چې نهٔ دی حل شوی ، لهٔ دې امله د غازي ملت د مشرانو کشرانو او پوهانو نه دا هیله کیږي چې د دې لویې وظیفې تاریخي مسؤلیت ته متوجه شي او د هغه زعامت او قیادت د منځ ته راتلو دپاره لاره هواره کاندي کوم ته چې زمونږ دیني رسالت او افغاني عظمت کلونه کلونه سترگې پهٔ لاره دی .

عبدالله غمخور

زما خدایه زما ربه

هرڅۀ وینې هرڅۀ اورې ته سامع یې تۀ بصیر یې
تقدیرونه ستا پۀ لاس دي تۀ قادر یې هم قدیر یې
ستا پۀ حکم ستا پۀ امر دی نظام د کایناتو
تحول کۀ تطوردی تۀ یې کړې تۀ یې امیر یې

غزنوي که ابدالي ؤ ، میرویس خان ؤ کۀ شیرشاه ؤ

ستا لښکرې ورسره وې ته ناصر یې هم نصیر یې

دا هم ستا د توري زور دی چې مې روس لۀ پښو پریویست

تۀ کارسازیې دغازیانو د بې مرستو مدد ګیریې

رسالت د لویوچارو د تاریخ دی را پۀ غاړه

مونږه لویه ده نیولې ته اکبر یې هم کبیر یې

بیا پښتو زمونږ پوره کړه بیا شمله زمونږ کړه نیغه

لاس مې کیده پۀ لاسونو د تورزنو ته دستګیر یې

بل څوك نۀ یو افغانان یو د توحید د بڼ طوطیان یو

د مشرق د اسمان ستوري بیا کړه مونږه ته منیر یې

مشکلات زمونږاسان کړې زما خدایه زما ربه

د بسملو تمناده تۀ واقف یې ته خبیر یې

لا به څو ځان غولومه

د ماشوم په څیرعالمه په خوړو ځان غولومه
د فکرونو په زانګو کښې په للو ځان غولومه
هر طرف ته د غازیانو د برې زیرې خوارهٔ دي
زه اخته یم په خبرو په جرګو ځان غولومه
دا د تن جامې مې توږلې د بچو په وینو سرې دي
د قاتله سره وینم په وعدو ځان غولومه

وخت او بخت راته اوازکړي زه پهٔ دي هم نهٔ پوهيږم
اوس د ګټو د ويشتو يم پهٔ پيسو ځان غولومه

منزري د لکو نيسم خوهوس د سيمو زرو
پهٔ اومه تاريم تړلی پهٔ وسلوځان غولومه

ازادی مې هر کلي ته ده پرانيستې غيږ ولاړه
د غرض پهٔ لومو بند يم پهٔ دانوځان غولومه

د خودی دخلي سرمې رسولی تراسمان دی
خواسرې تمې راتيت کړم پهٔ چڼو ځان غولومه

شيرازه د اتحاد مې کوره دړې وړې کيږي
لاس تر زنې ورته ناست يم پهٔ توبوځان غولومه

پښتون واله رانه ورکه د هجرت پهٔ سردرو شوه
د پښتون پهٔ تمه ناست يم پهٔ پښتوځان غولومه

کهٔ مې خپل دي کهٔ پردي دي ماهيت يې رامعلوم شو
غوليدلی يم پرې خلکه لابه څو ځان غولومه

جدی ۱۵ - ۱۳۶۷

پيښور

د شهید پوهاند مجروح په یاد ،

پښه نیولي بهارونه

نۀ غورېږي زړونه ارمانونه پښه نیولي دي
نۀ خاندي ګلونه بهارونه پښه نیولي دي
هجردې مهجوره محفلونه پریشانه کړه
نۀ راځي د مینې پیغامونه پښه نیولي دي
زړۀ کباب کباب دی صراحي لۀ اوښکو ډکه ده
راشه ساقي راشه چې جامونه پښه نیولي دي

غرزد بیلتانه دې د چمن سینه داغلې ده
گل دی کهٔ بلبل دی نگهتونه پښه نیولي دي
لړې د ماتم دې راخورې دي په اسمان د خیال
نهٔ چې وو ریزي بارانونه پښه نیولي دي
دا هسې اثرندی چې زه پهٔ کښې بې هوشه یم
دغې تورې شپې ته سحرونه پښه نیولي دي
لاړې ارزوگانې د عدم پهٔ زړهٔ کښې پټې شوې
ورځې دي کهٔ شپې دي ماښامونه پښه نیولي دي
زړهٔ دی ناکراره د دیدن قاتي راغلې ده
سترگې نهٔ مړیزي دیدنونه پښه نیولي دي
بیا راشه پوهانده د پوهنې دنیا ورانه ده
عقل دی کهٔ فکردماغونه پښه نیولي دي
څهٔ شوې مصوره مفکره چرته لاړې ته
تاته اوس د زړونو جهانونه پښه نیولي دي
یو افغان خوندی چې یې زه تاته پهٔ گوته کړم
ستا پهٔ غم کښې خانه عالمونه پښه نیولي دي
زیرې مې دریاندې چې روسان له ملکه وواته
څه چې څو وطن ته بیرغونه پښه نیولي دي

وخت د کوچیدو دی قافله د کوچ ولاړه ده

ستا لارې ته ګوري قدمونه پښه نیولي دي

۱۲/حوت/۱۳۶۷-پیښور

⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄⋄

څوک منصبونه خوري څوک ماجبونه خوري

څوک د غازیانو غوښې څوک یې هډونه خوري

څوک د قدرت په هڅه د باچاهۍ خوبونه

څوک په غمونو کښې ډوب د قام غمونه خوري

د افغانستان مجاهد ملت ته د روسانو په شکست او وتلو

مبارکی

د آریانا د ورشو بازه د افغان بچیه
د بت شکنو رازو نیازه د افغان بچیه
تاریخ پر وره تاریخ سازه د افغان بچیه
مایهٔ فخر مایهٔ نازه د افغان بچیه
تورې دې درز پهٔ جهان پریست مبارک دې شه
روس دې لهٔ خپلې خاورې ویست مبارک دې شه

*　　*　　*

"مقام اشعار غمخور"
در ادب پښتو

گویند درد ومصیبت آموزگاران انسان اند . به این تقریب " اشعار غمخور " درس های این استادان است . دردها چون درسخن اظهار شوند بیسخن سخن را دلنشین سازند وچون دردل نشینند ازدل بیرون نروند .

ساده گی وروانی از ویژه های ممتازوسلیس اشعاراین سخنگوی درد مند واین سخنوردانشوروارجمند است که با پیرایه یی فصاحت و بلاغت روی زیبایی دوشیزه گان طبعش نیازمند مشاطه نیست .

چې لۀ هیبته ورته پورته چا کتلی نشو
لۀ ډیرې ترهې ورتــه هیچا څۀ ویلی نشو
د دنیا زړونه بوګنیده څۀ یې کولی نشو
د یرغلونو مخ یې خلاص ؤ چا نیولی نشو
دغه ښامارډې ځنګه کیست مبارك دې شه
روس دې لۀ خپلې خاورې ویست مبارك دې شه
* * *

د اروپا غوښې یې خولې کښې وې پرې موړ نۀ ؤ
د بخارا وینې یې څښلې زړۀ یې سوړ نۀ ؤ
پۀ خوله یې یوه پۀ زړۀ یې بله چا سره جوړ نۀ ؤ
قتل عامونه یې کول پۀ لـوی او ووړ نۀ ؤ
ښه شوه چې تا لۀ برمه پریست مبارك دې شه
روس دې لۀ خپلې خاورې ویست مبارك دې شه
* * *
هغه دې وکړلو چې هیچا یې اټکل نۀ کوو
هغه څۀ وشولو چې بل چایې تکل نۀ کوو
عقل حیران ؤ تدبیرونو پرې تسل نۀ کوو
پۀ یر غلونو بې لۀ تانه چا یرغل نۀ کوو

جهان شو خلاص لهٔ تروریست مبارك دې شه

روس دې لهٔ خپلې خاورې ویست مبارك دې شه

*　　*　　*

منمه ستا سینه لهٔ غمه نه داغې ښکاري

وجود دې تول پهٔ وینو سور دی پرهارې ښکاري

کوردې وران شوی پهٔ بمونو د روسي ښکاري

بچي دې مړه شو پهٔ لکونو تراژیدي ښکاري

زار لهٔ دې هسې هست و نیست مبارك دې شه

روس دې لهٔ خپلې خاورې ویست مبارك دې شه

*　　*　　*

دنیا دې اوس پهٔ غزیدلو ښنو خوب کوي

د وحشتو نو مورشوه بوره نوردې سوب کوي

څنه اوربل دې بیا د نوي پیغلتوب کوي

نوې دې مینه د جانان د ځلمیتوب کوي

سحردې مات کړه د مارکسیست مبارك دې شه

روس دې لهٔ خپلې خاورې ویست مبارك دې شه

د حوت ۲۵ - ۱۳٦۷

تل ازاد اوسې کابله !

تهٔ زمونږ د مینې کور یې
ته زمونږ د سترګو تور یې

ته زمونږ د زړګي سر یې
ته زمونږ د متو زور یې

پهٔ تا نازو تل تر تله
تل ازاد اوسې کابله

* * *

تهٔ مسکن د منزرو يې
تهٔ ختن د شازلمو يې
تهٔ زانګويې د لويانو
تهٔ حرم د ميړنو يې
د غيرت د پټکي وله
تل اباد اوسې کابله
* * *

تهٔ بې شانه ښايسته يې
تهٔ بې مثله آراسته يې
تهٔ غنچه يې د ګلونو
د جنت د باغ ورمه يې

د ښايسته جانان اوربله
تل ازاد اوسې کابله
* * *
ستا پهٔ غيږکښې دي تختونه
ستا لمن کښې دي بختونه
ستا پهٔ سرباندې نازيږو
ستا پهٔ سرباندې تاجونه

د مشرق د بام مشعله
تـل ابـاد اوسـې کابـله

*　　　*　　　*

تـاريخـونـه تـا ليـدلـي
مـحشـرونـه تـا کـتلـي
کۀ چنګيزۀ کۀ انګريزۀ
دا جنګـونه تا ګټلي
د غـليم د سر اجله
تل ازاد اوسې کابـله

*　　　*　　　*

« اندري پوف » کۀ «بريژينوف » و
ورسره کۀ « ګربچوف » و
شو ناکامه پۀ جهان کښې
کۀ يې ټانك و او کۀ توپ و
د ويستلو تورو ځله
تل اباد اوسې کابله

تۀ رنها د ژوندانه یې
تۀ سنګلا د ژوندانه یې

تۀ کعبه زمونږ د زړونو
تۀ غوغا د ژوندانه یې

د وختونو تاج محله
تل ازاد اوسې کابله

* * *

پۀ زمان به دې ورنکړم
پۀ جهان به دې ورنکړم

څو مې سا وي پۀ مری کښې
پۀ هیڅ شان به دې ورنکړم

د غازي ملت مورچله
تل اباد اوسې کابله

* * *

د حوت ۲۹ - ۱۳۶۷

پیښور

د ثور ۱۲ - ۱۳۶۸

پیښور

زعامت

هرڅهٔ ترې جوړېږي خو وحدت ترې نهٔ جوړېږي

ډېردي غرضونه حکومت ترې نهٔ جوړېږي

هر سړی د خپلې خپلې خوښې باچاهي غواړي

دا فکر چه يو نشي دولت ترې نهٔ جوړېږي

لويه ګډوډي اوځان ځاني منځ ته راغلې ده

ګوتې د يو لاس دي خو ملت ترې نهٔ جوړېږي

دا منم پیسې شته او وسلې شته هم موټرې
خوځې په سلو لارو یو قوت ترې نۀ جوړیږي
میا دی کۀ ملا دی کۀ صاحب د طریقې دی
شکر پرې کوم خو زعامت ترې نۀ جوړیږ ي

لس کاله مې تیرد یواوبل پۀ انتظارکښې شو
لس لکه مې مړه شو قیادت ترې نۀ جوړیږي
زړۀ رانه بد نکړې د وطن غمونو سوی یم
دا ښنګه جهاد دی خلافت ترې نۀ جوړیږي
ما خو د اسلام پۀ نامه دا قرباني کـړیده
خاورې مې پۀ سرشوې امارت ترې نۀ جوړیږي
زړونه مشوش دي او فکرونه پریشانه دي
بل څۀ ترې جوړیږي سیادت ترې نۀ جوړیږي
لویه معضله لویه قیصه راته راپیښه ده
لویه هستي نشته نیابت ترې نۀ جوړیږي
ګوره چې لبنان ترې نه جوړ نشي ویریږمه
تورې دي تیریږي اخوت ترې نۀ جوړیږي
دغه امامت لۀ ربه نوی امام راوله
ډیردي امامان خوامامت ترې نۀ جوړیږي

څه وايي ؟

غوږ ورته کېده چې درد څۀ وايي درمان څۀ وايي ؟
پۀ پټه خوله باندې ګل څۀ وايي باغوان څۀ وايي ؟

زړه آينه کړه چې حالات د زمانې ووينې
شې به خبر چې رقيب څۀ وايي جانان څۀ وايي؟

مجادله ده که د حق او د باطل نښته ده
ښۀ ورته ځيرشه چې لاس څۀ وايي ګريوان څۀ وايي؟

جام يې ډك نشو كۀ بې شماره يې جامونه كړه تش

غور پرې وكړه چې مست څۀ وايي مغان څۀ وايي ؟

د دې كجروې زمانې به چاته څۀ ووايم

پۀ غوږو واوره دانا څۀ وايي نادان څۀ وايي؟

څوك به پۀ ګوتو كړم ملګرو چې چا څۀ وويل

راشئ وګورئ غازيان څۀ وايي او دهريان څۀ وايي ؟

د ابا سيند د زړۀ به شور د اسويلو پورته شي

كۀ شي خبرچه ګنګا څۀ وايي او ناګمان څۀ وايي؟

مسلمان څۀ كوې كافرو مې پۀ حال وژړل

چې شو آګاه آه فغان څۀ وايي اوغرضيان څۀ وايي ؟

څئ پۀ لمنې د تاريخ كښې به دا هم ووينو

چې د اڅكو صمد خان څۀ وايي او محمود خان څۀ وايي؟

عجبه نده چې پرديو راسره څۀ وكړه نن

عجيبه داده چې جهان څۀ وايي او خان ولي خان څه وايي؟

د حمل ۲۰ - ۱۳٦۸

پيښور

درمیان سخنوران بزرگ زبان پشتو که من در زنده گی ی خویش مسرت صحبت و قربت شان را دریافته ام یگانه شاعری که پس ازمرگ آن مرحومان نگهبان مسند و مقام سخن بوده وآنرا زنده نگهداشته است غمخور است . اینان درشماراندك بودند و محض با دو نام تاریخ ادب پشتو ی معاصررا ازدر فخرو درخورمباهات ساختند : قیام لدین خادم وگل پاچا الفت . ارواح شان شاد وملك جاوید سخنان شان آباد باد .

غمخوردرتعبیرآنچه می بیند چیره دست و نیرومند وازآنچه می شنود آهنگ آفرین ارجمند است ، درد ها و مصیبت های زمان شاعری ی غمخور بزرگ تر از درد ها و مصائب زمان مولانا خادم و استاد الفت بوده از یکسو بوی نیروی بیشتر الهام مجادله میدهند ، که به نفع اوست ، و از سوی دیگر کار اورا سخت تر می سازند . باین معنا که بیشتر و سخت تر در محل آزمون قرار میگیرد اما سعادت بر آمدن ازین آزمون بزرگ را از فیض و عنایت طبع و خلق و ذات خدا داد و نیرومند خویش در می یابد .

من یقین دارم که آیندگان اورا در صف بزرگان ادب پشتوی معاصر محترم خواهند شمرد. و مقام ممتاز او راقدر خواهند کرد . من او را در زمان حال در زبان پشتو بهترین شاعر دوره ی مبارزه ی ملی و جهاد ملت افغان میدانم .عمرش را مدام و فیض آثارش را مستدام میخواهم .

من این سطوررا عمداً بزبان دری نگاشتم زیرا برای پشتو زبانان خواندن اشـــعار در پشتـــو کافیست که ایشان را به ارزش « غمخور » آشنا ساخته وبـه مقام ارجمند آن معترف سازد وبه فحوای «آفتاب آمد دلیل آفتاب » نیازمند معرفی وتوصیه به مطالعه ندارند آرزومندم که آنانیکه به زبانهای دیگر مطالعات میکنند به این اشعار

د ډاکټر لودین په خواشینۍ مړینه

دا د چا لاس دی چې زمونږ بازو شاهین وژني
دادچا تیغ دی چې بیدریغه نازنین وژني
دا څهٔ حربه ده چې قلم قلم پرې زړونه شولو
دا څهٔ ماتم دی چې ښادي لوټي تسکین وژني
دا څهٔ اندوه ده چې جرس یې پهٔ فغان ګډ دی
دا څهٔ غوغا ده چې مکان او کهٔ مکین وژني

دا څۀ آشوب دی چې لۀ غمه يې بې غمه نشوم
دا څۀ فتنه ده پۀ کمين کښې مې کمين وژني

هيڅ نۀ پوهيږمه د چا سترګو بلا وخوړم
څوک مې ماښام څوک مې د شپې څوک ماسپښين وژني

خپله ځواني راپورې اورشوه خپل ښايست شولو غم
رقيب مې ځکه نن سبا پۀ آن واين وژني

ستوري خوديردي خو ستم د زمانې ته ګوره
چې ستمګرمې کهکشان ماه پروين وژني

دې سړي خوره مسلمان ته خلکه څۀ ووايم
کله «الفت» کله «مجروح» کله «لودين» وژني

لۀ خپله ځانه به اوس چاته خپل ګريوان څيرې کړم
نصيب مې خپل دی چې مې خپل يارو قرين وژني

د جون ۱۷ - ۱۹۸۹

پيښور

زموږ حال

غلیم راپورې خاندي زه په کورکښې نه جوړېږم

په دې هم نه پوهېږم

غرض په مخه کړی یم په سیند باندې ګډېږم

په دې هم نه پوهېږم

*　　*　　*

ګټلی مې پهٔ ننګ دی د سپينو تورو جنګ دی
وطن پهٔ وينو رنګ دی
د تورې پهلوان يم خو پيسو ته نهٔ ټينګيږم
پهٔ دې هم نهٔ پوهيږم
* * *

د پلار نيکه نومونه درانه لکه دا غرونه
د نام و ننګ سيندونه
تاريخ راته پهٔ سرو سترګو ژړيږي زه خنديږم
پهٔ دې هم نهٔ پوهيږم
* * *

ما کړې سرداري ده خپل واکه تاجداري ده
بې مثله واکداري ده
لالونه پهٔ ايرو کښې لټومه اوس کړيږم
پهٔ دې هم نهٔ پوهيږم
* * *

عزت مې سرنامه وه غيرت مې کارنامه وه
جرئت مې هنګامه وه

نیولې مې وه لویه اوس د چا پهٔ پښو ولیږم
پهٔ دې هم نهٔ پوهیږم

* * *

ښامارمې خملولی هأتې مې پرځولی
جهان مې لړزولی
پهٔ بریتو لاس وهمه خو ماشوم غوندې لوبیږم
پهٔ دې هم نهٔ پوهیږم

* * *

غیرته چرته لاړې عزته چرته لاړې
همـتـه چرتـه لاړې
د یوې ګیډې دپاره هم ګرویږمه خرڅیږم
پهٔ دې هم نهٔ پوهیږم

* * *

عالم عالم مرګونه امبارامبارغمونه
جهان جهان فکرونه
سبا مې معلوم ندی چې به څهٔ شمه څهٔ کیږم
پهٔ دې هم نهٔ پوهیږم

*　　　*　　　*

خبرې بې شماره جرګې په کښې بسیاره
پندونه هزارواره
هوس بې لارې کړی یم په لاره نهٔ سمیږم
په دې هم نهٔ پوهیږم

*　　　*　　　*

اخلاف دي کهٔ اسلاف دي
اخته په اختلاف دي
غوغا د اقتداره لهٔ ګرنګه پسې ولیږم
په دې هم نهٔ پوهیږم

*　　　*　　　*

دسنبلې ۱۰- ۱۳۶۸
پیښور

افغاني شهامت

پاريدلى چې افغانه نن جهان د نام وننګ دى
دا خو ستا د تکبير چيغه دا خو ستا د تورې شرنګ دى
*   *   *

بيرغونه پهٔ رپا شو ملتونه پهٔ نڅا دي
نوى ساز نوې نغمه ده ارمانونه پهٔ ګډا دي

ولوله د آزادۍ ده هنګامه ده لوړېٔ لوري
جنبشونه کوي زيري قيامونه پهٔ خندا دي
د الحاد کړه پهٔ سرشوه د لينننه سره جنګ دی
د اخوستا د تکبير چيغه دا خو ستا د توري شرنګ دی

* * *

« صوفيه » چې سره لمبه شوه د زخمي زړګي لهٔ تاوه
هنګرۍ کړه چيغه پورته د آهونولهٔ پسخاوه
کوه قاف سورى سورى شو د برلين ديوال را پرېووت
جرمنيانو سا کړه سمه د عمرونو لهٔ کړاوه
غورزيدلى لهٔ قدرته چاوسسکو ، پهٔ وينو رنګ دى
داخوستا د تکبيرچيغه داخوستا د توري شرنګ دی

* * *

د چکيانوارمان ووت‌ددوبچك ، پښتو پوره شوه
د روسانو راج شو ختم د ستالين ، اسره خوره شوه
زلزله ده پهٔ مسکو کښې محشرونه را ويښيږي
د زورګيرو وارخطا دى د الحاد مېنه سپيره شوه
هر ملت پخپله شمعه نن سبا ګوره پتنګ دى
داخوستا د تکبيرچيغه داخوستا د توري شرنګ دی

* * *

د آذرو ، ارمنيو ، بل د زړهٔ پهٔ خونه اوردی
مرکزي آسيا خوځيزي نهضتونه شروشوردی
د تاريخ سره خبرې د زاړه عظمت د پاره
زمانې دي شروع کړې دايې کاردايې دستوردی
ګونګوسی د انقلاب دی د خودي رباب ترنګ دی
دا خوستا د تکبيرچيغه داخوستا د تورې شرنګ دی

* * *

د ګورمړي ژوندي کيزي نهٔ پوهيزمه څهٔ رازدی
دتاريخ جبرېې بولي کهٔ د نوي ژوند آغازدی
ضرورت کهٔ مصلحت دی کهٔ نيازدی د وختونو
دا لښکرې دا توغونه دايې ډول دايې آوازدی
پريوتلی د تورزنو پهٔ ياغي راجا قلنګ دی

دا خوستا د تکبيرچيغه داخوستا د تورې شرنګ دی

* * *

ملتونه ازاديزي د پنــــــجې د ظالمانو
د مرغانو مخ پنا شو د تهړيکه لهٔ ښکاريانو

تحول کړي غزونې ولسونه متې نغاړي
لاسو پښې تړي هــرچېرې د بشرد قصابانو
زماني تړلې ملا ده پهٔ غليم باندې غورځنګ دی
دا خوستا د تکبيرچيغه داخوستا د تورې شرنګ دی
* * *

ستا د تورې د بريښنانه ملتونو الهام واخيست
ستا لهٔ عزم ، لهٔ ثباته قيامونو قوام واخيست
جنازه د کمونيزم لهٔ جهانه ويستل کيږي
ولسونو چې پهٔ لاس کښې د فکرونو زمام واخيست
چې يې داغ پهٔ خاطرايښی د خپل عصرد اورنګ دی
دا خوستا د تکبيرچيغه داخوستا د تورې شرنګ دی
* * *

نوی عصردې اغازکړای د نوي عصرپلاره
عالمونه دې ازاد کړه د خــون خوارو لهٔ حصاره
نوی ګل د قربانۍ دې د تاريخ پهٔ سرکښې کښيښود
نــوی ژوند دې کـړپهٔ ګوته د تمام جهان د پاره
لګيدلی چې بيدريغه د روسانوسرپهٔ سنګ دی
داخوستا د تکبيرچيغه داخوستا د تورې شرنګ دی

توجه فرمایند ودرصورت امکان پشتوزبانان آن را به زبانهای دیگر بر گردانند .

مبارزه ی غمخورتنها درقلمرو ادب نبوده است .

غمخور درمیدان جنگ نیز سر بازی کرده است واین سعادت به همه گان میسر نبوده است . از خدای بزرگ برای وی اجر عظیم می خواهم

عبدالرحمن پژواک

۲۱ دسامبر ۱۹۹۱ میلادی

پشاور

ولې يوعرض به وکړم کهٔ يې اورې زما خانه
وحدتونه دې لارښاري ناخبره لهٔ خپل ځانه

کهٔ ملايې کهٔ ملك يې کهٔ رهبرېې د غازيانو
عظمتونه چا ساتلي بې وحدته دي افغانه

د وحدت پهٔ ميو مست شه د ملي سرود آهنګ دی
دا دې وخت د اتحاد دی چې خطرد نام وننګ دی

* * *

د جدی اوله ورځ ۱۳۶۸

پيښور

امریکا ته د محترم سید شمس الدین مجروح په تلو

له مشرقه بیا سید د رومي مغرب ته

نهٔ پوهیږم چې لهٔ سترګو نه نظر لاړ
کهٔ امام د روشنفکرو لهٔ لښکر لاړ
ژړونه ریږدي سترګې ړنې غریو وایي
امریکا ته د افغان ځان وځګرلاړ

لۀ مشرقه بیا « سید » درومي مغرب ته

پیغامونه ورسره پۀ شوروشر لاړ

پوشیده واړه رازونه به افشا کړي

د ظلمت پردې به څیرې شي سحرلاړ

ملا نۀ وایم خان نۀ وایم شیخ نۀ وایم

دیده ورلاړدانشورلاړسخنورلاړ

څوك یې پوی پۀ قدر نۀ شولو پوهیږم

د بازارد نابیناؤ نۀ گـوهرلاړ

د بیدردودبې مهرو لۀ خود کشو

سینه چـــا که لکـه گل د پیغمبرلاړ

اوس به څوك کړي د وختونو تنده ماته

چې ساقي لاړوساغرلاړوکوثرلاړ

امریکې یې څومره ډیره بختوره

ستا لمنې لۀ زمونږ زیب و زیورلاړ

پۀ عادي نظریې مۀ گوره حکیمه

ستا حرم له د حرم د زړگي سرلاړ

د معنـا د ملك اميردی درته وايم
يوښوشپوله درسره لکه قمرلاړ
د زخمي خاطريې ډيره دلداري کړه
د هنرجهان لهٔ غيرېې د خاورلاړ
د وطـن د آزادی لهٔ درد و غمه
سپيلنی لوګی لوګی لکه مجمرلاړ
ځای لري چې لوی واړهٔ پرې غوغا وکړو
د هجرت د قافلې د زړهٔ شررلاړ
زياته نهٔ وايم عالمه کهٔ باورکړې
لهٔ ابدارو تورو حسن د جوهر لاړ

بیا به ځوک د فکرتوره پهٔ لاس واخلي
چې دانا د زمانې لهٔ بام و درلاړ
تسلی د زخمي زړونو به څوک وکړي
چې « مجروح » لهٔ ملکه لرې پهٔ سفرلاړ
امید شته چې د چمن گلونه واشي
بلبلان خپلو باغچوله بیرته راشي

۲۸ دسمبر ۱۹۸۹
پیښور

د مرحوم سیال په مړینه

د اقبال ستوری د مومندو لۀ اسمان پریووت
کۀ شهسوارد دنګو غرونو پۀ ارمان پریووت
جګه شمله د قبایلو د غرورسنکته شوه
کۀ پۀ لښکر د پښتون والي هئ سوران پریووت

قومي جرس شولوخاموشه د جرګو مرکو
کۀ سخنورد دانشورو سخندان پریووت

ويستلې توره د ننګونو بيا په تيکی کښې شوه
د وخت د لاسه چې قلم او قلمدان پريووت

هيڅ پويه نشوم په ګردش د جفا کاره فلك
دا څه را وشو چې عالم يې په لړزان پريووت

نه لولپه شوم نه لمبه شوم نه مې خاورې کړې باد
چې مې دانا په تورلحد کښې بنديوان پريووت

د ژوند په غيږکښې د مومندو قافله شوله لوټ
د اجل غشي په نامه د « ميراجان » پريووت

چې هم حاجي ؤ هم غازي ؤ هم پيغام ؤ د وخت
د غم خبرې په هرچا جهان جهان پريووت

ځای يې خالي دی او خالي به وي ترډيره عمره
چې د خرد يوسف په څا کښې نا ګهان پريووت

بويه چې بيا شي پسرلی او غوټې تاو کړي
د رستاخيزو په باغچو باندې خزان پريووت

سياله دا وخت خو ستا د تلو نه ؤ په څه لاړې
توره قلم دې چا ته وسپارل چې ته لاړې

پيښور
۳ حوت/۱۳۶۸

نن سبا

نۀ پوهیږم چې زمان مرې کۀ زمین مرې
کۀ تاریخ د تاریخ سازو د نګین مرې
چې دنیا یې اصالت ته وه حیرانه
هغه ملك هغه اولس هغه آیین مرې

د محموږ ، او د احمد ، آهونه اورم
د شیرشاه ، پهٔ خوله ده چیغه ، چې لودین ، مري
د میرویس ، د زړهٔ فریاد رسي اسمان ته
پښتیانا چې بیا پهٔ جورد گرگین ، مري

د اکبر ، او د ایوب ، غوغا ده جوړه
باتوران چې د غازیانو د کمین مري
د تکبیر ناره به غلې شي ویریږم
مرد حق مرد میدان مرد مومن مري
حفاظت به د ورشو پهٔ چا کوي څوک
رسالت چې د بازونو د شاهین مري
بیستونبه وایه چاته شي پهٔ غاړه
افسانه چې د فرهاد او د شیرین مـري
بې لهٔ خدایه چې بل چاته سټکته نهٔ وُ
اوس د نورو پـهٔ سجده هغه جبین مري
د مشرق تیارې به څنگه شي روښانه
چې د تورو د جهان ماه و پروین مـري

تاریکي ده د منزل لاره اوږده شوه
چراغان چې د ایمان او د یقین مري
د خود کشو خود غرضو لهٔ کرداره
غلبلا ده چې مکان مري هم مکین مري

توطیه د رقیبانـونـده خـهٔ ده
افغانان چې نن د زهرو پهٔ ګبین مري
اجابت چې یې دعـاته ږلیواله
د دعانه مخ کښې اوس ګوره آمین مري
د دنیا زړه به خالي نشي لـهٔ غمـه
د آسیا زړهٔ چې پهٔ هسې شان ناورین مري

پیښور

دا شعرونه

شعر : د آهنګ ، فکر، خیال او تصویر یو رنګین امتزاج دی چې یو کامیاب او معیاري شعر دا دري واړه توکي په ځان کښې لري او بیا دا رنګیني دزړونونظر په ځان پسې را کاږي او د زړونو د احساس تارونو ته ترنګ ورکوي.

شعر کهٔ آهنګ ونهٔ لري د نثر پهٔ کورنۍ کښې ځای لري ، کهٔ آهنګ ولري خو فکر پهٔ کښې نهٔ وي بیا نو د اوبو موزون شنهاراو د چونیو چغهار ته ورته یو تش

په پیښور کښې د ترور شویو افغاني شهیدانو پهٔ یاد

په وینو سرې لارې کوڅې

پهٔ رڼا ورځې چې قتلیږي داد چا بچي دي
پهٔ اورد ظلم چې وریتیږي دا د چا بچي دي
نهٔ یې ګناه نهٔ یې خطا او نهٔ یې جُرم معلوم
چې بې قصوره حلالیږي دا د چا بچي دی
نهٔ پرې د ځمکې زړګی وسو نهٔ اسمان وژړل
چې بې اسرې غونډې سنکاریږي داد چا بچي دي

چې ګوراوکوراو پېښوروته یوشوي دي نن
چې سرو مال یې تالا کېږي داد چا بچي دي
د پردیسی ښاماره تا په پته خوله وخورم
څنګ دې لۀ کومې نه تیرېږي داد چا بچي دي
د ځواني مرګو ارزوګانو چاته څۀ ووایم
د زړۀ دنیا ده چې ورانیږي داد چا بچي دي
د نقاب پوشه خون خوارانو نه تپوس ونشو
چې عدالت پرې نۀ خبرېږي داد چا بچي دي
نۀ یې قاتل شو ګرفتار نۀ یې چاره د امن
چې بې امانه وژل کیږي داد چا بچي دي
لارې کوڅې پۀ وینو سرې د مظلومانو وینم
چې وحشتونه ترې بوږنیږي داد چا بچي دي
د ماشیندارو پۀ ګولیو غلبیل شوې تنې
چې لوی واړه پرې راغونډیږي داد چا بچي دي
دا کۀ «الفت» دی کۀ «مجروح» دی کۀ «ډاکټرلودین»
چې د وختونو نۀ هیریږي داد چا بچي دي
آه پۀ «ذاکر» اوپۀ «قیوم» اوپۀ «ډاکټر سادات»
چې پۀ سرو وینو کښې لمبیږي داد چا بچي دي

د لشکرګاه د شهسوارانو جنازه ووته
دا چې هيلمند پرې سرتوريزي داد چا بچي دي
ويره مې شوې د «خطيب» د نامراده مرګې
چې ګريوانونه پرې څيريزي داد چا بچي دي
څۀ جهازونو څۀ توپونو څۀ ترور وخوړل
دا بې کفنه چې سنخيزي داد چا بچي دي
د هجرت غيزه شوله ډکه د ځلمو پۀ غوښو
دوينو سيند دی چې بهيږي داد چا بچي دي
ځئ چې تپوس د خپلو غوښو افغانانو وکړو
دا څۀ را وشو دا څۀ کيږي داد چا بچي دي

۶ حمل - ۱۳۶۹
پيښور

څلوريځې

شورموْ هغه بازارمو هغه او ملا هم هغه
تاسو ته وايم افغانانو دا پهٔ چا تيروتئ
د زاړه دور پرهارونه مو لاجوړشوي نهٔ دي
بيا هم پهٔ دې زړې عصا او زړې قبا تيروتئ

* * *

خلك پهٔ خپلو پښو ودريدل بې نيازه شولو

تاسو لا اوس هم د بل چا پهٔ اوږو مياشت ګورئ

د خپلو شتونه ناخبره ناواقفه خلکو

د خيرات ګرو پهٔ لمنو کښې خيرات ګورئ

* * *

بې واکه خلکو پهٔ هرځاى کښې واکدارى خپله کړه

تهٔ چې واکدار وې اوس د نورو سلامونه کوې

پهٔ شلم قرن کښې د خوږ زړهٔ د ناسورد پاره

طبيب دې هيردى پهٔ کوڅګرو تاويزونه کوې

* * *

د ثور ۱۳٦۹/۱٦-پيښور

د قومي اديب ښاغلي ننګيال د کتاب په مخ کتنه

و ينه په قلم کښې

کش دې د قلم اديبه لاړۀ تراسمانه

تۀ شوې پۀ اقليم د سخنوروکښې فرزانه

ستا خوارۀ ليکونه دي چې زړونه پرې نڅا کوي

ستا د خيال راغونه چې ښايسته دي لۀ بوستانه

ستا د قلم زوردی چې زورگیریې حیران کړی دی

ستا د قلم شور دی چې شورونه دي رقصانه

ستا د قلم توري اوس د تورو گزارونه کړي

ځکه مخ د تورو په غلاف کښې شو پنهانه

داویده عالم له خوبه تا را پاڅولی دی

تا قیصه کړه جوړه د مجنون او د لیلی نه

دغه خوند او رنګ کله زمونږه په نغمو کښې وُ

دا واړه تأثیردی ستا د سحرله بیانه

ستاد خیال ګلونه چه قطارشولوپه څنو کښې

دا فقیره پیغله ښایسته شوه له هرڅانه

تهٔ رشتیا مین یې چې واقف له خوږو زړونو یې

تهٔ یې بله شمعه په ژړا کښې یې خندانه

تهٔ یې چې نسیم غوندې غوړیږې د جانان په مخ

تهٔ یې چې زاریږې له محروم او بینوانه

تا د ځګر وینې د قلم په څوکه ښکلې دي

تا د تاریخ پاڼې زر زري کړې په ښه شانه

تا د وطن ویرېدۀ خوږه ژبه تصویرکړېدی
تا د افغاني ضمیرداغونه کړه عیانه
غرونه د مورال دې انځورکړي د غازیانو دي
تا اسمان خراشه لاکړه نوره درخشانه
تۀ زمونږنظر زمونږه فکرد قام ژبه یې
تۀ زمونږارمان یې ارماني مشې ارمانه
ستا مننه وکړم کۀ د مخ کتنه وکړم
تۀ پۀ دیرځۀ ارزې زما ژبه ده ناتوانه
دا چې یو پښتون وزیر* پالنه د پښتو کوي
خدای دې خپل پۀ خپلو همیشه کړي مهربانه
تل اوسې روښانه دِ ادب د ناوې خاله
مړمشې پښتونه خانه مړمشې « ننګیاله »

۱۹ ثور - ۱۳٦۹

پیښور

* دپوهنې وزیرډاکترفاروق اعظم چې د ننګیال د کتاب مخ کتنه یې وکړه .

پېښور ته د امریکا او اروپا نه د رابلل شویو افغاني مشرانو متعلق

نهٔ پوهېږم !

نهٔ پوهېږم رهبران زمونږ څهٔ وایي؟
یوېې ښهٔ ګڼي او بل یې ناښه وایي
د دولت رئیس یې غواړي مشورې له
خو «سیاف» ورته ناخوانده میلمه وایي
هغه بل یې هرکلی کړي په ناخوالو
مرده باد ورته پهٔ چیغو چیغه وایي

لهٔ مغــربه پهٔ راغلــوافغانانو

هيځ پهٔ هيڅه هغه و دا تورونه وايي

د « تني» او «سروري» سره کوي روغه

«ظاهرشاه» ته لاتراوسه هم نهٔ وايي

رئيس يوځهٔ صدربل څهٔ وزيربل څهٔ

غرضيان پهٔ کښي لا نورنورځهٔ وايي

حيراني ده ددې وخت پهٔ خصلتونو

چې تورسپين کاندي اوسپينوته توروايي

ددې يو وطن بچې د يوه کورخلک

ليوني شو نا ويلې پهٔ خوله وايي

پويه نشوم رهبري کهٔ خود سري ده

چې يې نورعالم نهٔ وايي هغه وايي

سل حسرته د «سياف» پهٔ دې خبره

چې خپل وروروته نا بللی ميلمه وايی

۱۱ سرطان - ۱۳۶۹

پيښور

صوت تري جوړيزي او که اهنګ او مضمون دواړه ولري او هنري اړخ ، خيال او تصوير ونهٔ لري پهٔ دي صورت کښي عادي او حتی عالي او موزوني خبري دي خو شعر نه دی ځکه شعر د آهنګ اوفکر تر څنګ شعري او هنري ژبه هم غواړي چې په دې ژبه کښي الفاظ لکه د غميو غوندې توزل کيږي او لکه د اصيلو ملغلرو غونډې اوبه کيزي ، څخيږي او د سيپۍ پهٔ سينه کښې قالب بندي کيږي .

دا تمهيد مې ددې له پاره کښيښود چې زه د يو شاعر پهٔ شعرونو تبصره کوم ، د يو داسې شاعر چې شعر يې هم ښکلی آهنګ لري ،هم ښکلی فکر او هم ښکلی خيال او تصوير . دا شاعر د هيواد پخته کار شاعر او ورسره پخته سال شاعر ښاغلی عبدالله غمخور دی . د غمخور صاحب شاعري ددهٔ لهٔ عمر سره سمه ده او د ژوند زياته برخه يې د شاعرۍ پهٔ رنګين بڼ کښې تيره شوې ده .

د سره سيلاب سرو څپو چې هر افغان ته ځمکه سره کړه او ورسره يې د افغان ټوله ځمکه د افغان پهٔ وينو سره . دې سرې تبۍ لکه د هيواد د نورو حساسو شاعرانو غوندې د ښاغلي غمخور د احساساتو څپې هم پهٔ جوش راوستې او دې آتش فشان ددهٔ د شعر چينې ته هم نوې تودوخه ورکړه شعر يې د حالاتو لهٔ خوځند نبض نه نوی آهنګ ، نوی خيال او تصوير واخيست او د اور ،وينو ، ويرې او وير پهٔ دې نوې دنيا کښې يې هم د شاعرۍ بهير کامياب ، خوځنده او ځپانده پر مخ ولاړ .

ښاغلی غمخور په خپل شعر کښې د خپل اولس ويرونه ، دخپل دښمن وحشت ، د خپلو غازيانو همت ، د خپلو شهيدانو سربښندنې او په نتيجه کښې ددې اتل

سپیدې مجله

لهٔ افقه تیارې لاړې پلوشې دي
پهٔ ملګروکوم زیری چې سپیدې دي
ستومــاني د ستړو زړونو به شي کمه
کهٔ هرځـومره د مـزل لارې اوږدې دي
د رقیب مـخه به ونیســم یارانو
د غـزل مسرۍ مې غشــي د لیندې دي

نوی بزم به آغـاز شي د ليکلو

نوی رزم به برپاشي زلـزلې دي

«پسرلی» به د کلتوربيرغ کړي پـورته

هم «انځور» چې يې سرشاره وطولې دي

د ادب سينګاريه وکاندي دوبـاره

دُرګوهرچې د «صميم» او د «رفيع» دي

قلمـروبه شـي آزاد د افغانانـو

د قلــم د خـاوندانو غلبلې دي

د وطن پهٔ درد و غم باندې ژړا ده

د وطن پهٔ سردي چيغې کهٔ سورې دي

نورد زړهٔ فرياد د زړهٔ پهٔ ښکلو بويه

را پهٔ غوږو چې د خـورې زړګي نارې دي

د خوبونو دوره تيره شوه سبا دی

د سيالانو د سياليو ورځې شپې دي

چې لمنې د «سپيدې» شي پړې رنګينې

اديبانو نه مـې دا تمې اسـرې دي

۲۸ جوزا - ۱۳٦۹

پيښور

زما د شعري مجموعې مخ کتنه

لویه هنګامه

ستړګې نهٔ مړیږي دا د چا د مخ کتنه ده
خلکه د مجنون کۀ د لیلی د مخ کتنه ده
سوزدی او ګدازدی هم فریاد د خوږو زړونو
اوښکې دي ګلګلونه د زړګا د مخ کتنه ده

دا د توراوربل او تورو زلفو ترانې نهٔ دي
دا د سپینو تورو د بریښنا د مخ کتنه ده
دا د زړهٔ آواز د سربښندونکو افغانانو دی
دا د نیم بسملو د غـوغا د مخ کتنه ده
دا سواد چې ګورې تهول د سوي زړهٔ داغونه دي
دا کتاب چې لولې د اشنا د مخ کتنه ده
دا د غم تصویردی چې بیان د حال پهٔ ژبه کړي
دا د مظلومانو بینوا د مخ کتنه ده
دا د زړهٔ قطرې دي هم نغمې دي هم لمبې د اور
دا دخوږ وطن د واویلا د مخ کتنه ده
دا هغه ورشو ده چې باران پرې د بمونو دی
دا د سرو لښکرو د یغما د مخ کتنه ده
دا تشې غـزلې رباعي او قصیدې نهٔ دي
دا د نـام و ننګ د کـربلا د مخ کتنه ده
لردي اوکهٔ بردي تهول د یوه چمن ګلونه دي
دا د شملورو د دنیا د مخ کـتنه ده

دا چې ادیبان د هنګامې د مخ کتنه کړي

دا د هر افغان د نن سبا د مخ کتنه ده

ځکه زه مننه د نظرد خاوندانو کړم

دا د ټولو مخ دی د هرچا د مخ کتنه ده

داسد ۱۳۶۹/۲۵-پېښور

د مرحوم محمد ګلاب ننګرهاري
پهٔ ناوخته مرګي

د خــبرو خــزانــه وه
د فکـرونو یــو جهـان ؤ

د جهـــاد د منـــزلـونو
بلـه شمعــه چــراغان ؤ

د معنـــا د ملك افسر ؤ
د ادب د ورشــو خـان ؤ

هم مشـیـر و هم دبیر ؤ
او هم لال ؤ هم مرجان ؤ

د فطرت په حديقه کښې
نوباده د ګلستان ؤ

د غازي د غزا توره
د شهيد د زړهٔ ارمان ؤ
د نبي د باغ ګلاب ؤ
« ننګرهارى » ؤ ننګيالى ؤ
چې پرې ستړګې وې روښانه
هم هغه فرهنګيالى ؤ

* * *

د افغان د زړګي سرؤ
د وطن د سترګو تورؤ

د هنر د تندي خال ؤ
د شعورد متهو زورؤ

د خرد دکلي مشر
د الفت د مينې کورؤ

د پښتون د پت شمله وه
د پښتو د غرور شورؤ

د هجـرت د غـمـزپلـو
د زخمي زړکي ټکورؤ

مجـاهد ؤ مـلا تـړلی
د غیرت پهٔ نیلی سورؤ

====

د وطـن لهٔ دردو غـمـه
ژړیـدلی کـړیـدلـی
ګریوان پاره لور پهٔ لورې
ګرځیدلی زغلیدلی

* * *

د قلم پهٔ قلمـرو کښې
یوه هستي وه بې مثاله

یوه انشأ وه دلپـذیـره
یوه امـلا وه بـاکمـاله

یوه آینه د سـاده حسن
بې پروا لهٔ خط وخاله

يـو عـــالـم ؤمنـــوره
يو سيـرت ؤ بـاجمـاله

يو درياب ؤ دموجونو
يوه باده وه مالا مـاله

يـو پيغام ؤ د وختونـو
يو شاهين ؤ زرين باله

===

نـهٔ پـوهيـږمـه يـارانـو
چې بيګا کهٔ سبـا ويـوړ
د مـرغۍ پهٔ شـان عالمه
پهٔ منګلو کښې چا ويوړ

* * *

تهٔ به هـم شي پښيمانـه
کهٔ خبـر شـولې بيلتـونـه

د قلـم د غتهـو اوښـکو
د بيـاض لهٔ جـګرخـونـه

د مـرګـونـو دغـوغـانـه
د تـرور لـهٔ عـذابـونـه

د شلیدلو ګریوانونو
د سرو اوښکو د جیحونه

د خودکشو لهٔ ګرداره
د خود خواؤ لهٔ مضمونه.

د غمونو لهٔ سیلابه
د فکرونو لهٔ جنونه

===

تاورکړي به وي نور هم
کهٔ خبر وې لهٔ دې حاله
دانشوروته وختونه
مبارزوته څوکاله

* * *

داچې وخت د نام وننګ دی
داچې ورځې د سیالۍ دي
د قسمت پهٔ درمنده کښې
د بختونو جوارۍ دي

ملت ویاړ ، بری او ورسره ددښمن ماته ، تیښته او ورسره تباهي او امحاء ټول رانغښتي .د ملت په هر ویر کښې یې د ویاړ، په هر برید کښې یې د بري او د دښمن په هر وحشت کښې یې د ماتې نخښې د تصور، داړ او ایمان سترګو ته دریدلې او د خپل ملت حادثې او حماسې یې د آهنګ ، فکر او تصویر قالب ته اچولې او شعر کړې دي .

د ښاغلي غمخور شعرونه معیاري ، کامیاب او له همدې کبله ښه او خوازه دي . آهنګونه دومره پکښې متنوع او حتی متراکم دي چې د اولسي سندرو خوند هم پرې ورګډ شوی ،فکر یې دومره جامع او هر اړخیز دی چې د جهاد ، هیواد او حالاتو یوه څنډه یې هم له نظره نه ده لویدلې ، که د جهاد بری ستایي ورسره د مشرانو بې اتفاقي او ګوډي ته هم څارو دی ، که د دښمن ماته انځوروي ور سره د هغوی مکاریو ته هم پام لري ، که د بري ترانې غږوي ور سره هدف ته د رسیدوپه لاره کښې کندې کپرې هم ویني ، که ځیر نظر یې په دوست ډوله دښمنانو پریوځي ورسره په دښمن ډوله دوستانو هم لویږي او دریا پردې یې له مخې څخه لرې کوي اوخیال او تصویر یې هم شاعرانه خیال او تصویر دی دا ټول په شاعرانه او هنري ژبه بیانوي او په دې توګه د آهنګ ، فکر، خیال او تصویر د رنګین امتزاج له مزاج سره سم ددې ټولو انډول ساتي .

ښاغلي غمخورد جهاد په دې خونړۍ لسیزه کښې ډیر شعرونه ویلي خو پاخه او معیاري شعرونه یې ویلي او ورسره یې لوی همت دا کړی چې په خپل لګښت یې خپاره کړي او دخپل اولاد نفقه یې پرې لګولې ده . د ه دخپلو شعرونو مجموعې په پرله پسې

ارمـــانـونه کـوي هڅـې
تلاشـونه دي خـوارۍ دي

د فـکـرونـو غـلـبـلا ده
اود زړونـــو تـــرارۍ دي
نـوي نـوي سـازشـونـه
نـوي ډول ســاحـرۍ دي

لهٔ غازیانـو لاس اخیستی
چې یـارانـو له یـارۍ دي
دا خـو وخـت د تللونهٔ وٶ
داخـو وخـت دی دخبـرو
« ننگـراریه » چرته لاړې
د فـکـرونـو لـهٔ سـنـگـرو

۲۸ اسد - ۱۳٦۹
پیښور

د درخو لمنې

هیرې به نکړم د «مدین» د سردرو لمنې
د سپین سحرد جګو غرونو د وږمو لمنې
د هر چا زړه وړي د لیدلو د کتلو په وخت
په مرغزارکښې د کوهسارد منظرو لمنې

لکه د ناوې سرترپایه پهٔ جوړو کښې پټې
د ګل ورینو ورشوګانو د ورشو لمنې
پهٔ هرطرف کښې زمزمه وه د آدم د رباب
پهٔ هرچمن وې د درخو د لوپټو لمنې
فضا وه ډکه لهٔ غوغانه د ویشتلو زړونو
نیولې راز وې او نیاز وې د قیصو لمنې
ورځ یې آینه دننداړو وه د قدرت د جمال
هم یې د مینې پټ پټانی وو د شپو لمنې
د خزان غزؤ بوزنولي د پیکو ګلونه
لهٔ خویه ډکې زنګیدلې دغو نڅو لمنې
د ایلم څوکه وه لیواله د دیدن پهٔ تمه
لیدلی څوک شي د حرم د ښاپیرو لمنې
وو د ښایست پهٔ کرونده کښې سیمینارد ادب
د پښتو شعرښکلولې د پښتو لمنې
پهٔ جهادي ادب خبرې وې بحثونه روان
د هنرګوتو جوړولې د نغمو لمنې
پهٔ چکس ناست ووالوتو ته د نظربازونه
د خرد شمعو رڼولې د تیارو لمنې

واړه ګلونه د محفل وو سخنوره زمونږ
د « شپون » خبرو لړزولې د جذبو لمنې

خوارۀ ساتونه د دې وخت به یادومه همیش
پۀ درنو تل درنې درنې وې د درنو لمنې

ښایسته ځواني دې ښکلې صواته لۀ نظره مۀ شه
تل دې خورې وې ستا د حسن د شغلو لمنې

۱۳ میزان - ۱۳۶۹
د سوات مرغزار

مونږ پرې نهٔ جوړيږو !

راشئ د دولت پهٔ جوړيدو باندې غزيږو

مونږ پرې نهٔ جوړيږو

*　　　*　　　*

راشئ لهٔ مشرقه لهٔ مغربه افغانانو

د فکرخاوندانو

سوچ پهٔ دې خبره باندې وکړئ هوښيارانو
ورونو پرديسانو
تخت مې دی ګټلی پهٔ ساتلو يې نهٔ پوهيږو
مونږ پرې نهٔ جوړيږو

*　　　*　　　*

تخت مې دی ګټلی خو پهٔ تخت باندې خبرې دي
زمونږلهٔ فهمه لرې دي
ډيرې پهٔ دې لارکښې د غرض لوړې ژورې دي
بی روه ګدرې دی
زړهٔ د باچاهۍ نه صبروو خو نهٔ صبريږو
مونږ پرې نهٔ جوړيږو

*　　　*　　　*

راشئ پيښورله لهٔ کاروانه نشو پاتې
دې خولې را ماتې
وکړو پهٔ همه ؤ رهبرانو ننواتې
ددې دنيا ميراتې
دوولس کاله وشو چې پهٔ سرو سترګو ژړيږو
مونږ پرې نهٔ جوړيږو

*　　　*　　　*

هرسړی چې وینې داوطلب د قیادت دی
د نوي زعامت دی
میا دی کهٔ ملا دی کهٔ صاحب د طریقت دی
پهٔ غم د امارت دی
غږد اقتداردی لهٔ ګرنګه پسې ولیږو
مونږ پرې نهٔ جوړیږو

* * *

توري مې وهلې دي خواوس وارد خبرو دی
زمونږد دانشورو دی
سیمو زرنهٔ وایه د عقل د دفترو دی
د صاحب نظرو دی
ښتي یو د ښکاریانو پهٔ دامونو کښې پرقیږو
مونږ پرې نهٔ جوړیږو

* * *

مړمهٔ شې «پژواکه» ستا خبرې ګوهرباره دي
جان وجان نثاره دي
څهٔ شولې «مجروحه» چې وختونه ناکراره دي
تاته انتظاره دي

بې لتا «حامده» فیصلې ته نهٔ رسیږو

مونږ پرې نهٔ جوړیږو

*　　*　　*

چرته یی «یوسفه» زلیخا د وطن ژاړي

مهرو وفا غواړي

دا داغلې زړونه «طبیبي» ته دي ترغاړې

نوی ملهم غواړي

تاته وایم «سیرته» لهٔ سیالۍ نه پاتې کیږو

مونږ پرې نهٔ جوړیږو

*　　*　　*

وخت د فراست دی ځان خبرکړه سخندانه

ته ډاکتر«روانه»

پورته کړه بیرغ د سخنورولهٔ میدانه

زمونږه نکتدانه

ډیریو کړیدلي لا ترخو به نورکړیږو

مونږ پرې نهٔ جوړیږو

*　　*　　*

لویه اندیښنه ده خدای خبردئ چې څهٔ کیږي

وخت رانه تیریږي

لاس ترزنې ناست یو قافلې رانه کوچیږي

بخت مې نهٔ ویښیږي

راشه زعامته غمخورۍ له چې ورکیږو

مونږ پرې نهٔ جوړیږو

* * *

۸ جدي - ۱۳۶۹

پیښور

د نارنج ګل

د نارنج ګله پهٔ پګړۍ کښې به دې کښېنږدمه
ته چې پهٔ ډکه خوله خندا کوې خبرنهٔ يې
پهٔ ځان مينه د بهارپهٔ لوپټو کښې پټه
د يارد حاله نه خبرنهٔ يې دلبرنهٔ يې

* * *

ډول د زړه اواز " ، " لویه هنګامه " او " دازادۍ غوغا او یوځل بیا لویه هنګامه (د تیرو ټولو مجموعو د ګډې مجموعې په حیث) خپرې کړې دي او دا دي اوس یې د وروستیو او نویو ویل شویو شعرونو مجموعه " د توري په مخ " په نامه خپریږي .

" د توري په مخ " هم لکه د ښاغلي غمخور د نورو شعري مجموعو غونډې د هیواد د روانو حالاتو له بیلا بیلو ګوښو نه برداشتونه او یادداشتونه لري خو په دې مجموعه کښې د ویرونو پر ځای د ویاړونو تله درنه ده او په له غریوه ډکه مرۍ یې ددښمن په نابودۍ او بربادۍ د زړه له کومې خندا او خوښي کړې ده .

ما ددې لیکنې په پیل کښې په شعر کښې د آهنګ ، فکر،خیال او تصویر پر امتزاج خبرې وکړې او په پوره ډاډ مې څرګنده کړه چې دا درې واړه توکه د ښاغلي غمخور په شاعرۍ کښې محسوس او ملموس دي خو بیا هم ډیرې لږې داسې پارچې پکښې شته چې له "آمد" نه وروسته هیڅ لاس نه دی وروړل شوی او له دې امله یې د آهنګ ، فکر،خیال او تصویر انډول سره ګډ شوی ، لکه پیښور ته له امریکا او اروپا نه د رابلل شویو افغاني مشرانو په باب پارچه چې فکر یې بې له آهنګ او خیاله وړاندې شوی او یا لکه د صدام حسین په ستاینه کښې ویل شوې پارچه ، چې آهنګ او خیال اوتصویر یې لوړ خوفکر یې له آني احساساتو نه رنګ اخلي ، بالمقابل داسې پارچې پکښې ډیرې زیاتې دي چې آهنګ ، فکر،خیال او تصویر ټول پکښې ځپاند او بهاند دي ، لکه د شهید ډاکتر سید بهاوالدین مجروح په یاد ویل شوی د "پښه نیولی دی " پارچه چې د محترم پسرلي صاحب خبره د پښتو په ټول ادب کښې ددې مرثیې په سلاست او بلاغت ډیرې لږې نمونې

تهٔ پهٔ تالاش د چا د غاړې يې دهارپهٔ فکر
زه خپله ورکه لټومه او پښتون غواړم
چې پهٔ نغمه يې لراو بره پښتونخوا ونڅي
ملګرو بيا هغه شپېلۍ او هغه شپون غواړم

*　　*　　*

ته لکه ناوې نهٔ مړېږې پهٔ ريښمينو جامو
زما پهٔ تن کښې د ليدلو اغوستن نشته دی
سره پرهارونه راسره دي د سرو ګلو پهٔ ځای
ژوندي خو څهٔ کوې د مړي مې کفن نشته دی

*　　*　　*

کهٔ بخت ياري راسره وکړه بيا به تهٔ وويني
چې پابوسۍ له به ګلونه د جهان راځي
نوی وطن نوی ختن نوی چمن به وي
نوی سپرلی به سلامۍ له د پغمان راځي

د حمل ١٦ - ١٣٦٩

پيښور

د نارنج د ګل مشاعره

د عراق تراژيدي

موردې کيني ستا پهٔ شانې زوی دې راوړي
سرلښکره د اسلام « صدام حسينه »
د مشرق سترګې دي پورته کړې دنيا ته
د اسلام پهٔ ننګ و نام صدام حسينه
*　　　*　　　*

توره هومره غیرت هومره چې تا وکړه
پهٔ یوائې سرپهٔ نوم د مسلمان تا
د یورپ اوامریکې سحردې مات کړ
د حیرت پهٔ ننداره کړلو جهان تا

*　*　*

بیا لښکرد یزیدانو دی راغلی
د باطل او د حق جنګ دی غلبلا ده
د شمریانو خوابې مرګه نهٔ سرېزي
د عراق خاوره نن تهوله کربلا ده

*　*　*

اسلامي غیرته څه شوې چرته لاړې
د توحید پهٔ مناروکښې زلزلې دي
د کافرو یرغلګرو خون خوارانو
پهٔ عراق باندې د اور لمبې خورې دي

*　*　*

د یهـودو نصاراو لهٔ شامته
لګیدلی د خلیج پهٔ خونه اوردی

هنګامه ده ایوبي را ژوندی کیږي

ځکه بیا پهٔ تل ابیب کښې شروشوردی

*　　*　　*

لهٔ سوریې ، لیبیا ، او مصره خبرنشوم

چې داویښ دي پهٔ دنیا کښې کهٔ ویده دي

نهٔ لوګي شولولهٔ غمه نهٔ لمبه شول

داسې سبکاري پهٔ ژوندیني باندې مړه دي

« اتا ترکه* » ځان خبرکړه لهٔ ترکانو

دانګریزسره یې پټې مرکې دي

ستا د خاورې دغازیانولهٔ مورچلو

د مشرکو پهٔ عراق باندې حملې دي

*　　*　　*

جنازه د سعودیانو نده څهٔ ده

فرنګی چې شوخادم د حرمینو

بیا به څوک قبلې ته سر پهٔ سجده کیږدي

امریکا چې شي امام د قبلتینو

*　　*　　*

مرګي حق دی تهٔ به مړ شې ای « صدامه »

خوستا نوم به پهٔ تاریخ کښې جاویدان وي

زمانه به تاونهٔ باسي لهٔ یادو

څو چې نښته د کافراو مسلمان وي

*　　*　　*

۲۹ جدي - ۱۳۶۹

پیښور

د شهید مجروح په یاد

جنبشونه ویښوومه ستا پهٔ یادو
نهضتونه لټوومه ستا پهٔ یادو
د وطن خیرې ګریوان لهٔ ستا لهٔ وینو
سره هارونه جوړومه ستا پهٔ یادو

* * *

ستا خوبونه به تعبیرد زمانې شي

ستا یادونه به جاویده ترانې شي

ستا بها د قربانی به « بهاؤالدینه »

بې بها د افغانانو [illegible]انې شي

*　　*　　*

څوچې شمعه وي پتنګ وي ته به هم یې

څوچې شورد نام وننګ وي ته به هم یې

څود حق اود باطل غوغا وي جوړه

څوچې نقش د فرهنګ وي ته به هم یې

*　　*　　*

مخ به تورشي د هغو چې زړهٔ یې توردی

سربه غوڅ شي د هغو چې سړي خوردی

لاس به مات زیره به وسوځي د هغو

چا چې ایښی د دانش خونې ته اوردی

۲۰ فبروري - ۱۹۹۱

پیښور

د خلیج آواز

یرغلونه دي پهٔ خونه د خون ریزشي
ماتمونه دي د دهرپهٔ چنګیزشي
اوردي پورې شي پهٔ سپینې مانې باندې
بکنګهم دي لوټې لوټې پهٔ جنګریز شي

د پاريس ، ناوې دې کونډه شي دوباره
چې ، متران ، پرې غمدرونه غم انګيزشي
ديونو ، قصردې لاندې شي لۀ خاورو
د فساد جاله دې ورانه ريز مريزشي
د عراق بچي يې مړۀ کړه پۀ زرګونو
لاس دې مات د امريکې او د انګريزشي
سردې سنکته وي د واړو قام فروشو
ظالمان دې نيزه وړي د هرنيزشي
د خليج د سيادت جنازه وشوه
څۀ به جوړد غلامانو لۀ تجويزشي

۸ حوت - ۱۳۶۹

دا کلونه به بیا نهٔ وي

زمانه به شي بدله دا وختونه به بیانهٔ وي
شرایط به تغیروکړي دا دورونه به بیانهٔ وي

د راحت وزمې به راشي د رحمت لهٔ سمندره
مرګ او ژوند به سوله وکړي دا جنګونه به بیانهٔ وي

دا پهٔ غم لړلې ورځې توري شپې د کړاوونو
پهٔ ښادۍ به شي بدلې دا غمونه به بیانهٔ وي

موندلی شو او په همدې ترتیب د کتاب ډیرې نورې داسې پارچې در واخلئ ، خوزه ددې وارهٔ خو خوارهٔ کتاب ټول رازونه دلته له تاسو سره سپړل نهٔ غواړم او تاسو درانه لوستونکي یې په خپله لوستلو او ترې خوند اخیستلو ته را بولم ، زه خپلې خبرې یوازې په یوه جمله بس کوم هغه دا چې : " د غمخور صاحب

شاعري د پښتو د معیاري شاعرۍ د لړۍ یوه ښکلې ، رنګینه او زرینه کړۍ ده " ۱

پهٔ درنښت

حبیب الله رفیع

حیات اباد ، پیښور

۱۳۷۰/۱۱/۱۶

سرو مال به شي پهٔ امن د شبخون لهٔ پیښوره
د شلیدلو ګریوانونو دا ویرونه به بیانهٔ وي

دغه وینې به رنګ راوړي د لکونوافغانانو
دا چمن به شي ښیرازه دا مرګونه به بیانهٔ وي

دا خورې ورې مرغۍ به بیا زړې جالې له راشي
د پردي د کټ خوبونه دا سوالونه به بیانهٔ وي

د وصال زیرى به وشي د بیلتون پهٔ غمځپلو
د هجرت د حسرتونو دا داغونه به بیانهٔ وي

«ملي ګر»او«بنیاد ګر» به تول پهٔ نوي خم کښې رنګ شي
د «خلقیانو» « پرچمیانو» دانومونه به بیانهٔ وي

یو جهان به وي د امن یوه دنیا به وي د مینې
د نفرت د خورولو دا فکرونه به بیانهٔ وي

د مجروح صایب نظریه دا مخ پټې غوټې واکړي
دا ګلونه به تازه وي دا کلونه به بیانهٔ وي

نوی بزم به آغازشي د ادب د محفلونو
د «غمخور» د قلم اوښکې دا شعرونه به بیانهٔ وي

زه به نهٔ یم پوهیږم جنتونه خهٔ وخت غواړي.
د هجران د دوزخونو دا اورونه به بیانهٔ وي

دحوت ۲۳ /۱۳۶۹-پیښور

تاوان

هيڅ نۀ پوهيږمه پۀ څۀ باندې جانان خرڅ شو
پۀ ګټه وته پۀ زيان کۀ پۀ تاوان خرڅ شو
چې يې خبرې به يې کولې د اسمانه سره
هغه دماغ هغه نظر هغه اسمان خرڅ شو

د منادي د خولې وينا ده دغازيانولښکر
ځهٔ پهٔ کويټ ځهٔ پهٔ سعود ځهٔ پهٔ ايران خرڅ شو
وره خبره نده چيغې مې لهٔ خولې نهٔ وځي
د شهسوارانو شهامت نام و نشان خرڅ شو
چاته ورغاړه وځم چا ته دا ژړا وکړمه
پهٔ پټو سترګو چې باتور زوی د افغان خرڅ شو

* * *

۱۵ حوت - ۱۳٦۹

پيښور

چا پرې نهٔ ښودم

غم مې د خپل وطن خوړلو خو چا پرې نهٔ ښودم
د زړګي زخم مې ګنډلو خو چا پرې نهٔ ښودم
د غیرت اوښکو مې پهٔ مخ باندې چپې وهلې
لهٔ مجبورۍ مې ځان ژړلو خو چا پرې نهٔ ښودم

صورت مې خپل ؤ خودواك خاني يې بل كوله
ګريوانِ مې څکه څيرولو خو چا پرې نهٔ ښودم
پهٔ اعتبارکښې تاڅواني را سره خلکو وکړه
جهان مې ټول پرې خبرولو خو چا پرې نهٔ ښودم
خپل چې پردي شي د پردو نه ګيله نهٔ ده پکار
راز مې ددې موضوع ويلو خو چا پرې نهٔ ښودم
مشران ډيروو خو پهٔ چا مې سترګې نشوې خوږې
زعيم مې خلکه لټولو خو چا پرې نهٔ ښودم
زړه مې ويل چه د جانان د مينې سود پرې وشي
درودیوارمې ښکلولو خو چا پرې نهٔ ښودم
پهٔ چګس ناست ومه نظر مې ؤ پهٔ لويه ورشو
ما د بازونو ښکارکولوخوچا پرې نهٔ ښودم
په د غل بازوسوداګرو مې قرعه ووته
کفن مې کله خرڅولو خو چا پرې نهٔ ښودم

٦ حمل - ١٣٧٠

پيښور

د پژواک هرکلی

هغه پژواک چې تل یې خوله ده لۀ خندانه ډکه
هغه پژواک چې یې کوپړۍ ده لۀ غوغانه ډکه
هغه پژواک چې پۀ ثبات کښې لکه غرښکاري
هغه پژواک چې پۀ کندو ختلی نمرښکاري

هغه پژواک چې تیزنظر لکه د بازلري
هغه پژواک چې په عالم باندې هم نازلري

هغه پژواک چې شپې او ورځې پسی خوب ویني
هغه پژواک چې سپین زیرتوب یې ځلمیتوب ویني

هغه پژواک چې یې مشرق او هم مغرب پیژني
هغه پژواک چې یې هم لرې هم قریب پیژني

هغه پژواک چې بې نیازه ورته نیازلري
هغه پژواک چې بصیرت ورسره راز لري

هغه پژواک چې له قلمه یې غوغا خوره ده
هغه پژواک چې په بڼونو یې نوا خوره ده

هغه پژواک چې د زخمي زړګي هنداره لیکي
هغه پژواک چې د اوربل کلیمه داره لیکي

هغه پژواک چې انتظار یې امیدونه کوي
هغه پژواک چې تپوسونه یې وختونه کوي

زیری کومه چې راغلی پیښورله بیا
زړو یادونو د آمو او د خیبر له بیا

ځئ چې سلام د روشنفکرو د امام وکړو
ځئ چې دعا یې د صحت په صبح و شام وکړو

ځئ چې نظر د پخته مغزه دانشور واورو

ځئ چې د متن مبتدا او هم خبر واورو

ځئ چې ځانونه پهٔ اسرارو د ژوندون کړو خبر

ځئ چې ځانونه پهٔ مضمون د نن پرون کړو خبر

ګوندې د فکر پهٔ تیارو باندې رڼا راشي

د مهجورۍ پهٔ تورو شپو باندې سبا راشي

۱٦ د اپریل - ۱۹۹۱

۲۲ حمل - ۱۳۷۰

د امریکا د راتګ نه وروسته په پېښور کښې مجروح صاحب ته

د اختر مبارکي

عمر دې ډېر شه د اخترمبارکي وايمه
د مرګي هير شه د اخترمبارکي وايمه
پاچا صاحبه ته ښادي يې ته اخترېږي زمونږ
څکه اخترته د اختــرمبارکي وايمه

* * *

ستا په راتلوباندې د خور زړګي دمې شوي دي
ستا په ليدو باندې د هيلو ګو نګوسې شوي دي

ستا پهٔ خبرو د بې وزلو مهاجرو زمونږ
ډيرې سود منې ډاډه ګيرنې تسلې شوي دي
*　　*　　*

شه پسنه نيولي واويلا ته د وطن وګوره
څيري ګريوان ته د افغان د مرد و زن وګوره
بيا کهٔ ځې خيردي امريکاته ولې دومره شه تم
چې بې کفنوله د خپل وطن کفن وګوره
*　　*　　*

مونږه دا نهٔ وايو چې مهٔ ځه خو وطن رانه ځي
ته يې هم ويني چې د پلار نيکه مسکن را نه ځي
د بې وقوفه مشرانو لهٔ غفلته ځنې
شتمني څهٔ کوې چې اوس ګور او کفن را نه ځي
*　　*　　*

پهٔ خوله مې ده مبارکي پهٔ زړهٔ ژړا کومه
د زړهٔ خاونده څکه تاته واويلا کومه
د خوږوطن جنازه وځي کهٔ اوزه ورکوې
تاته ونهٔ ژاړم نو چاته به غوغا کومه
*　　*　　*

لومړی خبري

دا زما د اشعارو څلورمه مجموعه ده ، نهٔ پوهیږم چه خلك به څه ورته وایي خو زه يې د خپل زخمي زړهٔ څړیکې ، د ژوبل احساس فریاد ، د نیازلمن ، د ازادۍ پیغام ، د جهاد نقش او د وخت اواز بولم ، چه انځور يې د حسرت پهٔ پوکو ، د غم پهٔ زګیروو، د فراق پهٔ اوښکو ، د غیرت پهٔ چیغو او د مینې پهٔ لمبو باندې شویدی ، کله چې زما پهٔ ذهن د افغاني شان و شوکت

د تورې په مخ

عبد الله غمخور

د توري په مخ

د شعرونو مجموعه

عبدالله غمخور

۱۳۷۰ هـ ش

۱۹۹۲ ع

بسم الله الرحمن الرحیم

زخمي زړګی راته ژړا کوي فریاد
دین او وطن راته نارې وهي جهاد جهاد
په یوه لاس توره ده په بل کښې مې قلم نیولی
د آزادۍ په سرهرخۀ منمه باد اباد

فهرست

سرليك		مخ
مقام اشعار غمخور در ادب پشتو	از استاد پژواك	۱
دا شعرونه	د حبيب الله رفيع	٤
لومړۍ خبرې	د غمخور	۹
زما خدايه زما ربه		۱۲
لا به څو ځان غولومه		١٤
ښبنه نيولي بهارونه		١٦
مبارکي		۱۹
ټل آزاد اوسې کابله		۲۲
زعامت		۲٦
څه وايي		۲۸
د ډاکټر لودين په خواشيني مرګ		۳۰
زموږ حال		۳۲
افغاني شهامت		۳٦
له مشرقه بيا «سيد» دِرومي مغرب ته		٤۱
د مرحوم سيال په مړينه		٤٥
نن صبا		٤٧
په وينو سرې لارې کوڅې		٥۰
ځلوريزې		٥۳
وينه په قلم کښې		٥٥
نه پوهيږم		٥٨

سپيدې مجله ۶۰
لویه هنګامه ۶۲
د مرحوم ننګرهاري په مړينه ۶۵
د درخو لمنې ۷۱
موږ پرې نه جوړېږو ۷۴
د نارنج ګل ۷۹
د عراق تراژیدي ۸۱
د شهید مجروح په یاد ۸۵
د خليج آواز ۸۷
دا ګلونه به بیا نه وي ۸۹
تاوان ۹۱
چا پرې نه منودم ۹۳
د پړواك هرکلی ۹۵
د اختر مبارکي ۹۸
انتظار ۱۰۰
اعلیحضرت محمد ظاهرشاه ته ۱۰۲
د مجاهد آواز ۱۰۴
د حریت جرس ۱۰۶
لویې کوو ۱۰۸
د توري په مخ ۱۱۰
توریالی غازی ۱۱۲
د کونړ څو نامور مجاهدین ۱۱۵